عبدالغفور لېوال ٢٠٢۴/٠١/١۴

# ایا رېښتیا افغاني فرهنګ د نجونو د زدکړو مخه نیسي؟



دا لیکنه په دوو کوټلو خبرو ولاړه ده:

١- هغوی، چې وايي: فرهنګ زدکړو – په تېربیا د ښځمنو پوهېدلو- ته اجازه نه ورکوي، فرهنګ نهپېژني او بېفرهنګه دي.

٢ -هغه څه چې په لړې پرتو سیمو کې کله کله د خلکو ترمنځ د نجونو د زدکړو مخه نیسي، فرهنګي عوامل نه، بلکې له چاپېریال څخه وېره او د ناامنۍ حس دی، چې د تاریخي شرایطو له امله د خلکو په تولیز لاشعورکې زېرمه شوی دی.

خو اول، راځئ وګورو فرهنګ څه دی؟ او ولې یې زه «فرهنګ» بولم؟

فرهنګ= کلچر، کولتور، کلتور Culture= ثقافة په بېلو بېلو ژبو کې یوه بشري ارزښت ته وايي. یومهال اروپایانو له تمدن و مدنیت Civilization سره په یوه مانا کاراوه او په دې بنه زموږ ځینو پخوانیو لیکوالو د عربي په تقلید ثقافت یا تمدن ګڼلی او روسته بیا مقلدو میرزایانو د فرانسوي – انګریزي ژبو تر اغیز لاندې کلتور، کولتور یا کلچر ګڼلی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

«فرهنگ» ویې د زرګونو نورو په شان پښتو او پارسي ژبو دواړو ته له لرغونو اوستايي متونو راغلی ګڼ ويی دی، چې تحتاللفظي مانا يې: «وړاندې راايستل شوی برم و پرتم» دی.

پښتنو کلاسيکو شاعرانو دا مفهوم فرهنګ کارولی دی او پښتنو ته تر نورو ټولو پردیو وییونو همدا فرهنګ ورخپل دی.

خوشال بابا فرمايي.

لاړل و جنت ته چې په پوهه خبر نه وو
لاړل و دوزخ ته چې يې لافې د فرهنګ کړې

د فرهنګ تعريفونه ډېر دي، خو زه يې دوه راالخلم، چې يوځه اسانه دي:

«فرهنګ يا تمدن، هغې سره پرلغښتي و اوبلي ټولګي ته وايي، چې ټول هغه پېژاندونه، باورونه، هنرونه، حقونه، اخلاق، دودونه، عادتونه او انساني توانمندۍ سره رانغاړي، چې يو انسان يې د يوې ټولنې د غړي په توګه ورخپلوي«.
بلځای:

«فرهنګ د يوې بشري ټولګي ټول هغه سره اړوند رسميکړای شوي فکرونه، احساسات، کړني او نښې دي، چې دغه بشري ټولګه تر بلې هغې توپيروي، راځرګندوي او لوړوي.»

فرهنګ؛ انسانمحور او ارزښتمحور دی. که دا خبره وسپړو، فرهنګ هر هغه فکر و عمل دی، چې يوه ټولګه انسانان يې د خپل بشري ژوند د لا ښو شرايطو لپاره په خپلو منځونو کې قراردادوي. دا ښه شرايط مادي، معنوي، ذوقي او اروايي دي. ښايي له همدې کبله ځينې کسان فرهنګ د يوې ټولنې د مادي او معنوي ارزښتونو ټولګې ته وايي.

ساده به يې کړو. فرهنګ هر هغه ټولنيز ارزښت دی، چې د انسان مادي، معنوي، ذوقي او اروايي ژوند ته يې ګټه رسيږي.

زدکړه، پوهنه، پوهېدل او د پوهې ترلاسه کول د فرهنګ تر ټولو مهم توکی(عنصر) او برخه ده. انسان له خورا لرغونيو زمانو د همدې زدکړې و پوهنې په مرسته خپل ژوند ورځ تر بلې لا پسې ښه کړی دی. نن، چې انسان څومره هوسا ژوند لري، د پوهنې و زدکړو له برکته دی، نو د دې ټولو پربنسټ، ولې بايد فرهنګ يا کلتور يا ثقافة د زدکړو (په تېره بيا د ښځو د زدکړو) په ضد و ګنو؟ په کوم منطق؟

څوک چې وايي، د افغانستان د خلکو فرهنګ ښځو ته د زدکړو اجازه نه ورکوي، نه فرهنګ پېژني، نه افغانستان، نه يې خلک او نه هم زدکړې او د ښځو د زدکړو ارزښت.

او يا يې که پېژني، نو دغه خبره يې بشپړه سياسي ده او له ځان سره پخپله هم پوهيږي، چې دروغ وايي او د پاکيستاني – انګريزي روايت و فکر تقليد کوي.

اوس راځم دويمي فرضيې ته:

ريښتيا هم په لرې پرتو سيمو کې ښايي يوشمېر خلک زړه ونه کړي، چې خپلې نجونې په کړکېچنو شرايطو کې ښوونځي و پوهنځي ته ولېږي، د دې لامل او عامل فرهنګي نه، امنيتي دی.

خلک په خپلو نجونو ډاريږي.

موږ له تاريخي پلوه په داسې سيمه کې پراته يو، چې له بده مرغه د هيندوستان او نورو ګاونډيو زمکو د نيولو لپاره لوی لوی لښکرونه زموږ د هيواد پر سينه تېر شوي، دلته اوږدمهالي جګړې وي او په داسې جګړو او يرغلونو کې خلک په خپلو کورنيو په تېره بيا ښځينه وو داريدل. موږ د تاريخ په اوږدو کې پياوړي ملي حکومتونه، مسئول پوليس او دوړ امنيتي سيستمونه لرلي نه دي. موږ د کمزوريو اقتصادي – ټولنيزو شرايطو له کبله اخلاقي کودونه ښه پاللي نه دي، بومي و دوديز کودونه مو مات کړي او نوي و ستندرد هغه مو پلي کړي نه دي. دې ټولو ستونزو زموږ فيزيکي و رواني امنيت کمزوری کړی دی، په بېامنيتی کې تر ټولو ډېر زيان ښځينهوو او ماشومانو ته رسيږي، چې د ځانساتنې توان يې کم وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د ناموس ساتنې و غیرت مفاهیم په خپله له همداسې ډار څخه ریښه اخلي. په نااامنه او بېباوره کړکېچځپلي ټولنه کې غیرت په یوه ټولیز ګروم بدلیږي او ناموس‌ساتنه حیثیتي کیږي. دا ډار واقعیت دی، خو له فرهنګ سره هېڅ اړیکه نه لري.

که یو ملي او مسئول حکومت په ټول هېواد کې ډاډوړ شرایط حاکم کړي، ټولنیز اخلاق پیاوړي شي او خلک ونه ویرېږي، د هرې سیمې افغانان به خپل ټول بچیان (نجوني و هلکان) ښوونځیو او پوهنځیو ته واستوي .
تر خپلواکی روسته په اماني او بیا ظاهرشاهي څلوېښت کلنه دوره او په تېرو شلو کلونو کې د ښاري او امنو کلیوالي سیمو خلکو خپلې لوڼې ښوونځیو او پوهنځیو ته استولې. د کندهار، بدخشان، شبرغان او نورو لرې پرتو سیمو د څلوېښتمو او پنځوسمو لسیزو عکسونه او د معارف لیکلی تاریخ وګورئ، ټولو قومونو او سیمو خپلې لوڼې ښوونځیو او پوهنځیو ته استولې.

خو پرعکس د ۱۳۷۰ لسیزې په پیل کې، چې د تنظیمونو حکومت و او پر نجونو د ښوونځیو رسمي بندیز هم نه و، مګر امنیت او ډاډ نه و. تنظیمي وسلوالو وحشت خپراوه او د خلکو ناموسونه خوندي نه وو، له ډېرو کمو سیمو پرته ګڼو خلکو، ان روښانفکرو ښاري کورنیو هم خپلې نجونې ښوونځیو او پوهنځیو ته نه پرېښوولې. ځکه هغه مهال ژوند او ابرو تر زدکړو لومړیتوب درلود.

ځیني ناخبره یا د غرض و مرض خاوند وګړي، له امنیتي شرایطو د خلکو همدغه ویره، په افغاني فرهنګ ورتپي او په غلطه د پاکیستانیو دا دعوه تکراروي، چې ګواکي – خدای مکړه!- د افغانستان خلک له فرهنګي پلوه د زدکړې، پوهنې او پوهې ضد خلک دي.

دغه اتهام او تور یو خورا ګواښمن او خطرناک تور دی، چې ښایي په وړاندې یې په کلکه ودرېږو.

وینیتیا، روښانتیا او بدلون


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ